# Our MULTILINGUAL VOICES

چاپ، I موضوع 7 | www.houstonisd.org/voices | اوړی 2022

## والدېنو ته پیغام

# ثانویه کډوالو او مهاجرو زده کونکو لپاره د 2022 کال د څو ژبو پروګرامونو د اوړي بډاېنه




د ثانویه کډوالو او مهاجرو زده کونکو لپاره د 2022 کال د هیوستېن د ISD د څو ژبو د اوړي بډاېنې پروګرام په هیوستېن کې د ټولنې د شراکتونو له لارې زده کونکو ته د ریښتوني ژوند تجربې چې اکاډمیک بریالیتوب ته لاره هواروي برابرې کړې دي. دغه علمي سیرونو د زده کړې بډایه عملي تجربو ته لاسرسی برابر کړي پداسې حال کې چې په ادبیاتو او ډرامې، STEM، مسلک پلټنې، او مدني برخو کې له ثانویه دورې څخه وروسته غوراویو پلټنه کوي. د بډاېنې پروګرام همداراز زده کونکو لپاره ارزښت لرونکی فرصت برابر کړې ده ترڅو د خپلې کلتوري پوهې او د زده کړې د ریښتوني نړۍ پلې کولو کچه لوړه کړي.









د اوړي د بډاېنې پروګرام د زده کونکو ټولنیزې او عاطفي زده کړې ته وده ورکړې ده پداسې حال کې چې د نوو راغلوو زده کونکو پروګرام ته د دننه کېدونکو او وتونکو زده کونکو لپاره یې د لیږد پروسه آسانه کړې ده. د اوړي د بډاېنې پروګرام زده کونکي له ریښتونو او په عملي ډول سره حس کېدونکو تجربو سره مخ کړي دي چې مشاهداني مهارتونه یې پیاوړي کړي، د شالید پوهه یې چې د هغوې په راتلونکي اکاډمیک بریالیتوب کې مرسته کولاې شي رامنځته کړې ده ، او د ټولنې پوهاوي ته یې پراختیا ورکړې ده. د دغه علمي سیرونو فرصتونو د زده کونکو ژبنېو مهارتونو ته وده ورکړې ده پداسې حال کې چې د کالج او مسلک لپاره د چمتو والي معیارونه یې له تجربې سره د ژبې د نښلولو پواسطه پوره کړي دي.

## د حکمت او پند وینا



**سونیا ایکس مونریل**
*اجرائیوي رئیس،*
*د څو ژبو ډیپارټمنټ*

2022-2023 تعلیمي کال ته ښه راغلاست! موږ ډېر خوښ یو چې تاسو کور سره د اړیکې نیولو په موخه د دې راتلونکي کال لپاره د HISD یو ښوونځي ټاکلي دی. لکه څرنګه چې تاسو خپل ماشوم/ماشومان د ښوونځي د لومړیو ورځو لپاره چمتو کوئ، موږ غواړو چې تاسو پوه شئ چې موږ ستاسو او ستاسو کورنۍ د هغوې د اکاډمیکو، ټولنیزو، او عاطفي اړتیاوو په برخو کې د مرستې لپاره دلته یو. موږ غواړو چې هر ماشوم او کورنۍ کله چې هغوې زموږ دروازو ته دننه شي د ښه راغلاست او درناوي احساس وکړي. موږ غواړو چې له تاسو هر یوه سره زموږ د ښوونکو، د ودانۍ د مرسته کونکو کارکونکو، د ودانۍ د رهبریت، او د تعلیمي حوزې د مرسته کونکو کارکونکو له لارې اړیکه ونیسو او ونښلو، مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو خپل ښوونځي ته خپل اوسنی برېښنالیک او د ټیلیفون شمېره ورکړئ. موږ له تاسو سره د والدینو د مختلفو غونډو، مهمو یادونو، او نورو اړونده مالوماتو شریکولو لیوال یو. زه تاسو خورا ډیر هڅوم چې د خپل ښوونځي له اړونده متخصص سره اړیکه ونیسئ ترڅو زموږ د کورنېو لپاره د لاسرسي وړ بېلابېلو سرچینو په اړه مالومات ترلاسه کړئ. د PowerSchool اپلیکیشن راښکته کړئ ترڅو له تاسو سره ستاسو د ماشوم/ماشومانو د نمرو او حاضرۍ په څارلو کې مرسته وکړي. موږ ستاسو لپاره دلته یو، په هر وخت کې له کومې اندېښنې پرته له خپل ښوونځي یا زموږ له ډیپارټمنټ سره اړیکه ونیسئ!

Multilingual@houstonisd.org

STAAR

[د STAAR نمرې د ټیکزاس د پوهنې د ادارې په وېب پاڼه کې د لاسرسي وړ دي](#)

Pashto

## په TX کې د انګلیسي ژبې د زده کونکو ملاتړ کول




**د هیوستن د ISD ملاتړونه**

**Parent Course** [https://bit.ly/3thXK9M](https://bit.ly/3thXK9M)
له HISD سره په کور کې د زده کړې په اړه مالومات

**د ژبنېو مرستو لست**
[https://www.houstonisd.org/Page/184314](https://www.houstonisd.org/Page/184314)

**د والدېنو سرچینې**

**د تیګزاس د پوهنې د اداري ملاتړونه**
[http://bit.ly/3t69k8k](http://bit.ly/3t69k8k)

**په کور کې د زده کړې لپاره ګټورې وېب پاڼې**
دغه وېب پاڼې به د انګلیسي ژبې د تخصص د مهارتونو په پیاوړتیا کې مرسته وکړي: اورېدل، خبرې کول، لوستل، او لیکل.

انګلیسي: [https://bit.ly/3dyBtxT](https://bit.ly/3dyBtxT)

هسپانوي: [https://bit.ly/3mxiBDH](https://bit.ly/3mxiBDH)

**د انټرنیټ براېرونکي: د کورنیو وصل ساتل**
انګلیسي: [https://bit.ly/2OteiN2](https://bit.ly/2OteiN2)

هسپانوي: [https://bit.ly/3mkfFtG](https://bit.ly/3mkfFtG)

**د لویانو د زده کړې او لیک او لوست پروګرامونه**
[https://bit.ly/3wqVOxl](https://bit.ly/3wqVOxl)



HOUSTON HEALTH DEPARTMENT

د هیوستن ښار د ټولو هیوستنیانو د هوساېنې د سمون، ساتنې او مراقبت او خوندیتوب لپاره له ټولنې سره په شراکت کې کار کوي. ډیپارټمنټونه د روغتیایي بې عدالتېو ته د رسیدو او د مېندو او ماشومانو، لویانو او د لړکیو وګړو د ملاتړ لپاره ځانګړي شوي دي. لاندې برابر شوي هایپرلینک څخه لیدنه وکړئ ترڅو د خپلې کورنۍ یا نورو وګړو لپاره احتمالي چوپړتیاوې پیدا کړئ چې ښایي له دغه چوپړتیاوو څخه ګټه پورته کړي.

[HTTPS://WWW.HOUSTONHEALTH.ORG/](https://www.houstonhealth.org/)

## د TEA مجازي غونډه

# د T3 د ښکېلتیا لړۍ کې ځان همدا اوس راجستر کړئ.

د تیګزاس د پوهنې اداره (TEA) تاسو ته بلنه درکوي چې په نومبر 11، 2022 کې د سهار له 9:00 بجو د غرمې تر 11:00 بجو پورې په یوې مجازي غونډه کې ګډون وکړئ ترڅو د زده کړې د برابرۍ په اړه مالومات ترلاسه کړئ. شفاهي ژباړونکي به د غوښتنې په صورت کې د راجستر کولو د فورمې [په کارولو سره د لاسرسي وړ وي](#).

## نېټه خوندي کړئ




# راپورته کېدونکو دوه ژبو زده کونکو ته د یو بریالي ذهنیت رامنځته کول

**شنبه، نومبر 5، 2022**

**د سهار 10:00 – د غرمې 12:00**

**مجازي ناسته**

**ځان راجستر کړئ:** [bit.ly/IgnitingASuccessfulMindset](https://bit.ly/IgnitingASuccessfulMindset)

## د 2022-2023 کال اکاډمیکه کلیزه


HOUSTON INDEPENDENT SCHOOL DISTRICT

2022-2023 ACADEMIC CALENDAR

| Key | |
|---|---|
| (shaded) | Holidays |
| (box) | Teacher Preparation Days (no students) |
| (circle) | Teacher Service Days (no students) |

**School Day Start and End Times**

| | |
|---|---|
| 7:30-3:00 | Elementary School |
| 8:30-4:00 | K-8 and Middle School |
| 8:30-4:10 | High School |

**Holidays**

| | |
|---|---|
| September 5, 2022 | Labor Day |
| October 5, 2022 | Fall Holiday |
| November 21-25, 2022 | Thanksgiving Break |
| December 22-January 4, 2023 | Winter Break for Teachers |
| December 22-January 6, 2023 | Winter Break for Students |
| January 16, 2023 | MLK Day |
| March 13-17, 2023 | Spring Break |
| March 31, 2023 | Chavez-Huerta Day |
| April 7, 2023 | Spring Holiday |
| April 21, 2023 | Spring Holiday |
| May 29, 2023 | Memorial Day |

**Significant Dates**

| | |
|---|---|
| August 8, 2022 | Teachers report to work |
| August 22, 2022 | First day of school |
| December 21, 2022 | Last day of first semester |
| January 9, 2023 | First day of second semester |
| May 31, 2023 | Last day of school for students |
| June 1, 2023 | Last day for teachers |

| Grading Periods | Report Card Dates |
|---|---|
| Aug. 22-Sept. 30 | October 7, 2022 |
| Oct. 3- Nov. 4 | November 11, 2022 |
| Nov. 7-Dec. 21 | January 13, 2023 |
| Jan. 9-Feb. 24 | March 3, 2023 |
| Feb. 27-Apr. 14 | April 20, 2023 |
| Apr. 17-May 31 | May 31, 2023 (ES, K-8, MS) |
| | June 7, 2023 (HS) |

*Last Updated 02/15/22*

د خپل ماشوم/ماشومانو د اکاډمیک کال په پلان جوړولو کې د مرستې لپاره، له لاندې لینک څخه لیدنه وکړئ [2022AcademicCalendar (houstonisd.org)](#).

## مکرراً غوښتل شوې فورمې



د هر تعلیمي کال په پیل کې، د ښوونځي ودانۍ له والدینو/سرپرستانو څخه په HISD کې شامل هر ماشوم لپاره د ګڼ شمېر فورمونو د بشپړولو غوښتنه کوي. دا فورمونه باید د 2022-2023 کال په پیل کې بشپړ شي. ټول فورمونه باید بېرته د ماشوم ښوونځي ته وسپارل شي. د ښوونځي ودانۍ به دغه فورمونه په عمومي ډول سره په یو مالوماتي پاکټ کې چې له ماشوم سره به کور ته واستول شي، برابر کړي. دغه فورمونه د لاندې لینک د کارولو پواسطه راښکته کېدلې او چاپ کېدلی شي.

[https://www.houstonisd.org/parentforms](https://www.houstonisd.org/parentforms)




# ستاسو ماشوم څنګه کولاې شي چې د کډوالو د زده کړې د پروګرام په شراېطو برابر شي؟

**که چېرې په تېرو درېو کلونو کې، تاسو یا ستاسو د کورنۍ یو کس د کرنې یا کب نیولو د کار په لټه کې ستاسو له کور څخه وتلې وي، تاسو ښایي د دې پروګرام په شراېطو برابر اوسئ.**

د راجع کولو فورمه په لاندې لینک باندې د کلیک کولو پواسطه بشپړه کړئ: [https://docs.google.com/forms/d/1r8pGHr1l6ng7Cs9jhO5Om015ximNQfwuOUfIndstnQg/edit](https://docs.google.com/forms/d/1r8pGHr1l6ng7Cs9jhO5Om015ximNQfwuOUfIndstnQg/edit)
او زموږ کارکونکی به له تاسو سره اړیکه ونیسي ترڅو معلومه کړي چې آیا ستاسو په کورنۍ کې کوم څوک په شراېطو برابر دی که نه. د لا ډېرو مالوماتو لپاره، د کډوالو د زده کړې د پروګرام وېب پاڼې [https://www.houstonisd.org/Page/32056](https://www.houstonisd.org/Page/32056) ***څخه لیدنه وکړئ یا د کډوالو د څو ژبو ټیم سره په*** 713-556-7288 شمېرې اړیکه ونیسئ.